﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾(سورهٔ حجرات-آیهٔ ۱۰)
**ټول مومنین د یوبل ورونه دی، پس تاسی ورونه پخپل منځ کی سوله وکړی او له خدایه وډارېږی تر څو پر تاسی ورحمیږي.**

**"د سولې لپاره د افغان میرمنو تګلارې پریکړه لیک"**
**ملي کنفرانس**

**کابل، افغانستان، ۱۱-۱۳ می۲۰۱۵**

---

مونږ د سولې پروسه کی د افغان ښځو تګلاره او د بدلون لسیزی ته ورتګ په کنفرانس کی د ۱۵۰ تنو څخه ډیر ګډونکونکی درلود، مدني ټولنې سیمه ایز استازو، د سولې د ولایتي کمیټو غړو، د مدني ټولنې کارکونکو، او دولتي استازو په ګډون ټول د **(۱۱-۱۳ می ۲۰۱۵)** تاریخ کی د کابل په ښار پدی کنفرانس کی ګډون وکړ ترڅو د سولی په پروسه کی د افغان ښځو تګلاره په هکله بحث وکړي.

د ملي وحدت حکومت جوړښت څخه را پدې خوا د سولې په لار کښې د پام وړ ارزښتمند ګامونه اخیستل شویدی او مونږ ددغی لاری تود هر کلی کړیدی او مونږ ټول ددی ملاتړ کوو. له دې سره سره، مونږ اوس هم په دې بهیر کښې د روښتیا او د ښځو د پراخ ګډون په اړه اندیښمن یو. د سولې لپاره د بیلابیلو حکومتونو هلو ځلو تر ځنګ بیا هم افغانستان په جګړې کښې یو ښکیل هیواد دی. له بده مرغه دا ټول کوښښونه بریالي نه وو، او ددی ستر لامل د سولې په بهیر کی حاکمانو انحصار دی چې په ټولیزه توګه د یوشمیر ځواکمنو له لورې اداره کیږي. د سولې په اړه دا ډول خبرې اترې امکان لري په سیاسي ډګر کښې ځینې اړین پرمختګونه منځته راوړي، خو په ټولیزه توګه تر هغه مهال پورې هیڅ لاسته راوړنه نلرو تر څو د ټولنې ټول ټولګې په هغه کښې شاملې نه وي او دوی ته په دغه بهیر کښې پوره واک نه وي ورکړ شوی.

په ټولیزه توګه مونږ د سولې لپاره د ملی وحدت د حکومت لومړني کوښښونو او د سولې په بهیر کښې د بیرنیو او پخو ګامونو پورته کولو ستاینه کوو، ځکه سوله د هیواد په لمړیتوبونو کښې ځای لري. مونږ کلک باور لرو چې د افغانستان په شخړه کښې ډیر کورني او بهرني عوامل لاس لري چې یوازې د افغان دولت له لورې هغو ته ځواب نشي ورکول کیدای، بلکه په ټولنیزه توګه د خلکو او مدني ټولنو، ګاونډیو او اسلامي هیوادونو او نړیوالې ټولنې ملاتړ ته اړتیا لري.

له همدې امله ټولو یاد شو ډلو ته لاندینی سپارښتنې وړاندې کوو:

**د افغانستان اسلامی جمهوری دولت او د سولې عالي شورا**

1. یو منظم میکانیزم جوړول ترڅو ټولو افغان خلکو سره، له هری ډلی مخصوصا ښځو سره د سولی د پروسی په اړه مشوره تر سره شی او دوی ته په منظمه توګه د پرمختګ په اړه خبرتیا ورکول شي.

2. د یوې روښانه پالیسي او ستراتیژي جوړول او تطبیقول د سولې د ټولو برخو، عادي ژوند ته د مخالفینو راګرځیدلو، جوړ جاړي او د میرمنو رول په سیمه ایز او ملي کچو په برخه کی.

3. تیرو ناخوالو ته د پاملرنی او پر هغوی د پوهیدلو لپاره د یو میکانیزم یا کړنلارې جوړول او په ملی سطح د غمجنو د درد پوهیدلو او لیری کولو کمپاین پیل کول.

4. سولې ته د مخالفینو راستنیدو، جوړ جاړي او امنیت په اړه د سولې په ټولو خبرو اترو او پریکړو په بهیر کښې د میرمنو د څرګند حضور ډاډ تر لاسه کول.

5. د میرمنو د اړتیاو او حقونو ملاتړ چې په اساسي قانون کښې تری یادونه شویده؛ هر ډول خبرې اترې چې د طالبانو سره تر سره کیږي په هغوی کښې باید د میرمنو د تضمین شوو حقونو، بشری حقونو، د افغانستان اوسنی اساسی قانون او د ښځو د زده کړی حق له پامه و نه غورځول شي.

6. د اساسي قانون ساتنه او د هغه رعايت کول، او دا ډاډ تر لاسه کول چې د سولې په ټولو خبرو اترو کښې اساسي قانون په نظر کې ونيول شي او عملي شي.

7. د امنيت ښه والي په ځانګړې توګه په کليوالو سيمو کښې، او همدارنګه پوليسو ته د زده کړې او عامه پوهاوي زياتوالی او د لا ډيرو ښځينه پوليسو په دندو ګمارل.

8. عدالت ته د لاسرسي په برخه کښې ښه والي منځته راوړل، قومي او مذهبي مشرانو هڅول چې د شخړو د مخنيوي لپاره وړ چاپيريال را منځته کړي، خلکو ته داسې توکي برابر کړي چې د هغو پواسطه د شخړو مخنيوی وکړي، پرته له دې چې د ميرمنو او انجنونو حق او آزادي تر پښو لاندې شي.

**مخالفې ډلې**

1. شخړې، تاوتريخوالی او جګړې د حل لاره نده ځکه چې افغان ملکی خلک، د ميرمنو او بيګناه ماشومانو په ګډون له منځه ځي. ملي وحدت حکومت د خبرواترو او مذاکرې لپاره فرصت برابر کړيدی او مونږ له تاسې غوښتنه کوو چې تاسې د اوسنی او راتلونکی نسل د ښه والي لپاره د افغانستان له حکومت سره خبرې اترې وکړی او له جنګ او جګړې لاس واخلی.

2. که تاسې سربيره پر دې چې دولت له تاسې څخه د مذاکرې او سولې غوښتنه کوی بيا هم تاسې جګړې ته دوام ورکړی، تاسې د ټولو تاوتريخوالی ډک کړنو د سرته رسيدو مسول ياستی. تاسې بايد د انسانانو د ژوند ارزښت ته پاملرنه وکړی او له تاوتريخوالی ډک حملو څخه چې د سلګونو بيګناه ملکی خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځی لاس واخلی.

**مدني ټولنه**

1 . د سولې او امنيت اړوند موضوعګانو لپاره د مدني ټولني د څارني يو هر اړخيز ميکانيزم را منځته کول، تر څو په ګډه د سولې او امنيت د بهيرونو څارلو لپاره په انفرادی او ډله ايزه توګه لاره هواره شي.

2 . پر حقونو ولاړ خبری اترې رواجول، د ميرمنو لپاره د زده کړې او پوهاوي لوړولو په برخی کی زياتوالی تر څو پر خپلو اړتياوو پوه او د اسلامي او هم نړيوال ليد لورې له مخې د راتلونکي په اړه سم فکر وکړي شي.

3 . افغان ميرمنو ته د اړيکو جوړولو فرصت برابرول او په سيمه ايز، ملي او نړيوال سطحو د زده کړی فرصت برابرول، تر څو هغوی و کولای شي په نړۍ کښې د ميرمنو حقونو د ملاتړ نور سازمانونو سره اړيکې جوړې کړي.

4 . د اساسي قانون د حکمونو په اړه د پوهې لوړتيا، او ډاډ تر لاسه کول چې ميرمنې او سړي د خپلو حقونو په اړه چې په اساسي قانون کښې ځای ورکړل شوی پوهيږي، او دا چی دوی هر چيرې چې اوسيږي او يا سواد لري او که نه د خپلو حقونو په اړه معلوماتو ته لاسرسی لري.

5 . د رسنيو په راپورونو کی زياتوالی اوښه والی، او همدارنګه د ښځينه ژورنالستانو په شمير کی زياتوالی راوړل او/ يا د جنډر د يوشانوالی په هکله لا ډير مفکورې او سرچينی پکارول او دغه معلومات د رسنيز پوښښ لاندی نيول.

**اسلامي او ګاونډي هيوادونه**

1.د سولې او امنيت په پروسه کې د افغانستان خلکو ملاتړ، او په سيمه ايز توګه د ريښتينی ملاتړ له لارې د سولی او امنيتی راوړل تر څو جنګ او جګړی پای ته ورسيږي.

2.د پاليسی جوړونکو، مدني ټولنې فعالينو او د ميرمنو د حقونو مدافعينو لپاره د سولې او امنيت په اړه د خبرې اترې کولو لپاره غونډه برابرول او کوربه توب، تر څو د بيلابيلو برخو تر منځ ملتيا او همغږی منځته راشی.

3.د سولې په خبرو اترو او غونډو کښې د ميرمنو د حقونو د ساتنې په خاطر د افغانستان دولت څخه ملاتړ.

4.د یو ګډ کمپاین له لارې د اسلام تر نامه لاندې د ځان مرګو بریدونو د هڅولو مخنیوی په ځانګړې توګه په عامه ځایونو کښې، او د افغان دولت او وسله والو مخالفینو تر منځ د اوربند را منځته کول.

5.مونږ غوښتنه کوو چی ټول هیوادونه باید له افغانستان څخه د یو رقابتی استخباراتی مرکز په توګه ګټه وانخلي. او د افغانستان سیمی څخه باید د افغانستان او نورو نږدی هیوادونو د اقتصادی او سیاسی ګټی او همکاری مرکز په موخه ګټه واخیستل شی.

**نړیواله ټولنه او مرسته ورکونکي اداری**

1.پر افغانی لومړیتوبونو پانګه اچونه، افغانی لومړیتوبونو ته مالی او تخنیکی منابعو برابرول چی په سیمه ایز او ملی کچه د خلکو امنیت تامین کړي او همداسی د سولی او امنیت پلان جوړولو مرحلی کی ښځی هم په نظر کی نیول.

2.عدالت غوښتنه ددی لپاره چی افغان ښځی په سیمه ایز کچه د سولی پروسی او له دولت سره مخالفو ډلو یو ځای کیدو پروسه کی ګډون و کړي او همدارنګه د ښځو نظرونه، تجربی او اړتیاوی په یاد شوی پروسو کی شاملی شي.

3.فشار راوړل ترڅو د ښځو حقونه په اجندا کی شامل وي، نړیوال ټولنه خپل مالی مرستو ته دوام ورکوی که د سولی په پروسه کی ښځی شاملی وي، او دا چی د ښځو حقونه او ازادی په هر خبری اتری او مذاکری کی په نظر کی ونیول شي.

4.باید له تیرو تجربو پند واخلو او نړیواله ټولنه د افغانانو او په خاصه توګه ملی وحدت له دولت څخه د سولی د لومړیتوبونو په اړه ملاتړ کوي. باید پر طالبانو او پر هغو ګاونډي هیوادونو سیاسی فشار وشی چی د طالبانو ملاتړ کوی ترڅو دوی په عادلانه او شفافه توګه د مذاکری او دولت سره یوځای کیدو په پروسه کی ګډون وکړي.